## د امت اړوند مسایلو ناسته کې د ګډون بلنه

حزب التحریر- ولایه سوډان ویاړي چې تاسو ته د امت اړوند مسایلو ناسته کې د ګډون بلنه درکوي، خوښ یو چې تاسو به د یوې ډلې سیاسیونو، د رسنیو متخصیصینو او کاروپوهانو سره ګډون وکړئ. دلته به نه یوازې په ځینو مسایلو او پرمختګونو بحث وکړئ، بلکې له یوه ژور لید سره راپورته شئ، چې زموږ امت به له ظلم څخه ژغورئ او بېرته به یې هغه موقف ته راګرځوئ چې پخوا یې درلود. غوره ملت چې صادقانه لیدلوری لري، تل له مسلسلو پېښو او ډېرو مسایلو وروسته د بشر ژغورلو لپاره راپورته شوي دي. موږ پرېکړه وکړه چې ناسته له میاشتې څخه اونۍ ته راواړوو، چې راتلونکې شنبه به پیل شي او وروستي حقوقي تعدیلات به د لاندې سرلیک له ژور شرعي لید سره سم مطرح شي:

**وروستي حقوقي اصلاحات... د اسلام پر اساس یو روښانه لید**

**اصلي ویناوال:**

**۱**. استاد حاتم جعفر ابراهیم (وکیل) ـ د حزب التحریر- ولایه سوډان د ولایتي مجلس غړی.

۲. استاد ابراهیم عثمان (ابو خلیل) د حزب التحریر- ولایه سوډان رسمي ویاند

**ځای:** د حزب التحریر- ولایه سوډان مطبوعاتي دفتر- ختیځ/ لویدیځ خرطوم، المک نیمر سړک، د ۲۱ اکتوبر سړک سره متقاطع.

**وخت:** ۱۴۴۱هـ.ق، د ذي القعدې ۲۷مه، چې د ۲۰۲۰م، د جولای له ۱۸مې سره سمون خوري د سهار ۱۱:۰۰

**ستاسو حضور د امت د مسایلو په اړه ستاسو اندېښنې ښیي.**

**ابراهیم عثمان ابو خلیل**

**د حزب التحریر- ولایه سوډان رسمي ویاند**

**۱۴۴۱ هـ.ق، د ذي القعدې ۲۲مه**

**۲۰۲۰م، د جولای ۱۳مه**

**د صدور ګڼه: ۱۴۴۱/۵۷**